Deputy PM for Economic Affairs Office
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال - ۴۶مه ګڼه | پرله‌پسې ۶۰مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۱۲/۷



په افغانستان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- په ټاپي پروژه کې د بهرنۍ پانګونې جذب

۲- د کندهار او فراه ولایتونو له پاره د ځینو پراختیایي پروژو منظوري

۳- په اقتصادي کمېسیون کې د معیار او کیفیت او کابل ته له پنجشیر څخه د اوبو لېږد پروژې په اړه مهمې پرېکړې وشوې

## په تاپي پروژه کې د بهرنۍ پانګونې جذب

د تاپـي (ترکمنستان–افغانستان–پاکستـان–هنـد) ګاز نلليکې پروژې په اړه د ترکمنستان مخکينـي ولسمشـر او سياسـتوال قربانقلي بردي محمدوف په خپلې تازه مرکه کې ويلي، د امريکايي شرکتونو په ګډون نړيوال شرکتونه د انـرژۍ د لېږد په دې لويـه پروژه کې پانګونه کولی شـي. د هغه په وينا، دغه پروژه د امريکا په ګډون، له نړيوال ملاتړه برخمنه ده او د سـويلي اسـيا د انرژۍ د اړتيا پوره کولو ظرفيت لـري. لـه دې وړانـدې، تېـره مياشـت چـې د ترکمنستان د لومړي وزير مرستيال او د بهرنيو چارو وزير محترم رشـيد مردوف هرات ته راغلی و، نـو د رياسـت الـوزراء اقتصادي مرسـتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپلو خبرو کې يادونه کړې وه چې د سـعودي عربسـتان دلتا انټرنشنل کمپنۍ په دې پروژه کې د پانګونـې پـه اړه لېوالتيا ښـودلې ده. په دې اسـاس د افغانسـتان اسـلامي امارت په دې پـروژه کې د دلتا انټرنشـنل کمپنۍ د پانګونې پيغام ترکمنسـتاني مسـوولينو ته ورسـوه. د ترکمنستان د دې سياستوال څرګندونې ښيي چـې ترکمنسـتان پـه تاپـي پـروژه کـې د دلتا انټرنشنل کمپنۍ پانګونې په اړه مثبت نظر لري او غواړي چې په دې پـروژه کې بهرنۍ پانګونه جذب کړي. تاپي پـروژه نه يوازې د انرژۍ د لېږد پروژه ده، بلکې د افغانستان له پاره د ترانزيټ د عوايـدو، د کاري فرصتونو د ايجاد او د صنعتي پرمختګ يوه مهمه سرچينه هم کېدای شي. د دې پروژې بشپړېدل د افغانستان د اوږدمهاله اقتصادي ثبات له پاره ډېر ضروري دي. اسلامي امارت د خپلې اقتصاد محوره پاليسۍ پر بنسټ د سـيمه ييز اتصال بشـپړ ملاتړ کوي او غواړي چې د سيمه ييز اتصال ټولې پروژې عملي شي. د تاپي پروژې چارې په ترکمنسـتان کې بشپړې شوې وې، خو د اسلامي امارت له راتګ سره يې په افغانسـتان کې هم چارې پيل شـوې چې تر اوسـه يې شاوخوا سل کيلومتره ځمکه د پايپ د غځولو له پاره هواره شوې او يوه اندازه پايپ هم غځول شوي دي.



## د کندهـــار او فراه ولايتونو لـــه پاره د ځينو پراختيايي پروژو منظوري

د روانـي اوونۍ په سـرکـې د ملـي تدارکاتو کمېسـيون د نورو پروژو ترڅنګ د کندهار د احمدشـاه بابـا نړيـوال هوايي ډګـر د نوي ترمينل او پارکينګ جوړول، د فراه په مرکز کې د مسـافرو او باروړونکـو موټـرو د ترمينـل جوړول او د سـمنګان له ايـبک څخه تر روى دو آب پـورې د ۲۰ کيلومتـره سـړک جوړولـو پروژې منظورې کړې.



د احمدشاه بابا نړيوال هوايي ډګر د جنوبي زون له بوختو هوايـي ډګرونو له ډلې دی. د دې هوايـي ډګـر په پراختيا سـره بـه له دې هوايي ډګره د تلونکو او راتلونکو مسافرو له پاره خدمات لا ډېر معياري او منظم شي.

پـه فراه کې د مسـافرو او باروړونکو موټرو له پاره منظم ترمينل د ترانسـپورټي سيسـتم د تنظيـم، د عوايـدو د شـفافيت او د سـوداګريزو فعاليتونو د اسـانتيا لامـل ګرځـي. همدارنګـه، د سـمنګان د ۲۰ کيلومتره سـړک جوړول به د سيمې ترمنځ د

تګ راتګ لګښتونه راکم کړي، کرنیز محصولات به په چټکی سره بازارونو ته ورسېږي، چې له امله به یې د کلیوالي اقتصاد وده پراختیا وموومي. دا ډول زیربنایي پروژې نه یوازې لنډمهاله کاري فرصتونه رامنځته کوي، بلکې په اوږدمهال کې د پانګونې، سوداګرۍ او سیمه ییز اتصال په پیاوړتیا کې هم مهم رول لوبوي.

## په اقتصادي کمېسیون کې د معیار او کیفیت او کابل ته له پنجشیر څخه د اوبو لېږد پروژې په اړه مهمې پرېکړې وشوې

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د روانې اوونۍ د سه شنبې په ورځ په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه. په دې غونډه کې د نورو موضوعاتو ترڅنګ د معیار او کیفیت اداري له لوري د داخلي معیارونو له پاره جوړې شوې ۱۲ مسودې او د ازماینښت ۱۱ طریقې تایید شوې. دغه مسودې د ساختماني توکو، برېښنایي او طبي وسایلو او سامان الاتو، نساجي، پلاستیک، لبنیاتو او همدارنګه د ازماینښت طریقې بیا د خوراکي او کرنیزو محصولاتو اړوند وې. د معیار او کیفیت اداره په هېواد کې د تولیداتو، صادراتو او وارداتو اړوند مهم معیارونه برابروي، چې له امله یې د خوراکي او غیر خوراکي توکو معیار تضمینیږي او هېوادوالو ته د صحي او منل شویو اصولو له مخې توکي وړاندې کېږي.

د اقتصادي کمېسیون په دې غونډه کې له پنجشیر څخه کابل ته د اوبو د لېږد د پایپ لین پروژې راپور هم تایید شو. مالیې وزارت ته هدایت وشو چې د یادې پروژې د سروې او ډیزاین له پاره د اوبو او انرژۍ وزارت ته بودیجه ځانګړې دي. په کابل ښارکې د نفوس زیاتوالی، په خپل سر او غیر معیاري ډول تر ځمکې لاندې اوبو څخه استفاده او اقلیمي بدلون په ښارکې د تر ځمکې لاندې اوبو د کموالي مهم لاملونه دي. د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې د کابل ښاریانو د اوبو د کموالي ستونزه حل کړي. په دې اړه یې په تېرکې له مختلفو شرکتونو سره هم خبرې کړې دي، څو د پانګونې د جذب له لارې یادې ستونزې ته رسېدنه وشي. کابل ښار ته د پنجشیر اوبو د لېږد پروژه یوه مهمه اقتصادي پروژه ده، چې په بشپړېدو سره به یې د هېوادوالو له پاره د څښاک پاکو اوبو دوامداره سرچینه رامنځته شي. دغه راز، په ځینو سیمو کې به د ککړو اوبو د استعمال مخه ونیول شي، چې له امله به یې هېوادوال له روغتیایي ستونزو خلاص شي. تر ټولو مهمه دا چې د پنجشیر اوبو له لېږد سره به د کابل ښار تر ځمکې لاندې اوبو د غیر معیاري او خپل سري ډول د ایستلو مخه هم ونیول شي.

